ISSUE 72 MARCH 2024

خانه نو نوی کور

New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

A news service for Afghans in America

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.

# نوروز په جلا وطنۍ کې؛ کلتور ته باید درناوی وشي



Photo Credit: Nasreen Sajady

- طالبانو د نوروز رخصتي لغوه اعلان کړې دی
- د میټا نوی مرکز په مینه‌سوټا کې پرانیزي
- میټا ویلي چې پر دې مرکز به شاوخوا ۸۰۰ ملیون ډالر پانګونه وشي
- متحده ایالات د نړۍ د خوښۍ په نوې درجه بندۍ کې ۲۳م ځای لري
- فنلنډ سږ کال د نړۍ د خوښیو لومړی مقام ګټلی دی

## د میټا نوی مرکز په مینه‌سوټا کې پرانیستل شي

میټا، هغه شرکت چې د فیسبوک او انسټاګرام مالکیت لري، اعلان وکړ چې دوی به په ۲۰۲۶ کې د مینه‌سوټا په روزمونټ کې خپل نوی مرکزي دفتر پرانیزي. د مینه‌سوټا والی، ټیم والز تیره اونۍ د میټا پریکړې هرکلی وکړ، وویلي یې دي چې د دې پروژې سره به په زرګونو دندې رامینځته شي.په ورته وخت کې، میټا ویلي چې پر دې مرکز به شاوخوا ۸۰۰ ملیون ډالر پانګونه وشي او په ساختماني برخه کې یو زره دندې او د معلوماتو سکتور کې ۱۰۰ اوږد مهاله دندې به په دې مرکز کې برابرې شي.

## متحده ایالات د نړۍ د خوښۍ په نوې درجه بندۍ کې ۲۳م ځای لري

د ګالپ ګلوبل سروې په ټوله نړۍ کې د خوشحالۍ د اندازه کولو لپاره یوه ساده لاره جوړه کړې ده.څېړونکي دا ځوابونه په ټوله نړۍ کې د خوښۍ درجه بندي کولو لپاره کاروي. د دغه انسټیټیوټ نوې سروې چې په دې وروستیو کې خپره شوې، ښیي چې امریکا له ۱۵مې څخه تر ۲۳مې درجې کې راغلې ده. په دې سروې کې څېړونکي د ټولنیز ملاتړ لوړې کچې او د سالم ژوند تمه په ګوته کوي.فنلنډ سږ کال د نړۍ د خوښیو لومړی مقام ګټلی دی.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

## نوروز په جلا وطنۍ کې؛ کلتور ته باید درناوی وشي

نوروز په افغانستان کې یو له هغو لرغونو جشنونو څخه دی چې درې کاله وړاندې د میلیونونو خلکو لخوا په رسمي توګه لمانځل کیدلی. وروسته له هغه چې طالبانو په ۲۰۲۱ کال کې واک ترلاسه کړ، دوی نوروز حرام وګڼل او د نوروز د لومړی ورځې رخصتي یې هم لغوه اعلان کړل. له تېرو شلو کلونو راهیسې نوروز په کابل او مزارشریفي ښارونو کې د حکومت له خوا په ځانګړي شکل سره لمانځل کېدلی، د طالبانو په واکمنۍ سرهیاد ټول پرګرامونه لغوه شوي دي.په مزارشریف ښار کې د ګلسرخ جشن یو له هغو جشنونو څخه وه چې هر کال د نوروز په رارسېدو سره ترسره کیدلی. په دې جشن کې به له بېلابېلو ولایتونو څخه زرګونه کسانو برخه اخیستل. په تېرو دریو کلونو کې دغه پروګرام په رسمي ډول نه دی لمانځل شوی.حسنات خدري چې په مینیسوټا کې اوسیږي وایي چې د نوي کال او پسرلي لمانځل تل ورته مهم دي او په خبره یې چې د وطن د فرهنګ پالنه ډېره مهمه ده. حسنات یادونه وکړه چې هر څوک باید د یو بل کلتور ته درناوی وکړي. نوي کالي اغوستل، د ملګرو کورونو ته تلل او نور پرګرامونه ترسره کول د نوي کال خاص مراسیم دي. په کابل کې د نوروز د لمانځولو ترځنګ یو شمیر نور لاملونه هم شته چې د نورو په لمانځلو یې سیوری غوړلی دی. علي‌الله چې له خپلې کورنۍ سره په کابل کې ژوند کوي وایي چې نوی کال یې لمانځي. د هغه په وینا، بېوزلي او وزګارتیا د دې لامل شوې، چې ډېر خلک د تېر په څېر د نوي کال د نمانځلو وس ونه لري او په خبره یې چې له هغه ورسته چې طالبانو واک ته رسیدلي دي په زرګونه کسانو خپلې دندې له لاسه ورکړي دي.